سراج الحق ببرک زی ځدراڼ ۲۰۱۱/۱۲/۱۹

# د افغان کوچیانوحقوق، تاریخ او ژوندبڼې ته کوابښونه

لومړۍ برخه

سریزه:



کوچیان د نړۍ په تاریخ کې له زرګونو کالونو څخه راهیسې د چین شمال او دافغان دهندوکوش له غرنو څخه نیولي تر شمالي افریقا مراکش، بیاد هندڅخه نیولي تر مرکزي اسیا، ایران، ترکیه، روسیه او اروپا کې د تمدون برخه او د تمدون د لړدوونکي ولس په څیر پیژندلي شوي دي.

توکمپوهانو په ورستیو څولسیزوکي زده کړل، چې کوچیان کومه بیله ټولنیزه ښکارندې، پدیدې، یاد انساني ژوند یو ځانګړې، زړه کښوونکي ډول نه دی، بلکې کوچیان د یوې ستري ټولنې نه بیلودونکي وګړي دي او دټولنې له نورو وګروسره برابر ربنتي یا حقوق لري. کوچې خوځښتونه د ژوندکولو یوه ځانګړې بڼه یافورم دی.

له همدې امله دکوچیتوب مانا په یوه نوې رڼا کې را څرګندیږي. په نړۍ کې د تاریخ په اوږدو کې کوچې ولسونو د کمیت له پلوه یوه ستره وګریزه شمیره رامنځ ته کړې او د دوی ژوند د ژوند بڼې له پلوه یوځانګړې ډول د ژوند پیژندل شوي دی. کوچیان تل له میشتو ولسونو،پرګنو، ټولنوسره لړ یا ډیرې اړیکې ساتلي دي. کوچیانو دمیشتو ولسونو له ادارو، موسساتو، ټولنیزو اسانتیاو او ارزښتونو څخه لړ څه رنګ اخیستي دی.

له بده مرغه، د نن ورځ پرمختللي ټکنالوجی، مدرني نړۍ رمې لرونکي ولسونویا کوچیانو ته لړ ځای ورکوي.

په شلمه پیړۍ کې د نړۍ په ډیرو هیوادونو، سیموکې د امن او نظم ډیر خواکونه، د ترانسپورټ پرمختللي وسایل رامنځته شوي دي. ورسره جوخت د کوچیانومیشته کولو پلانونه اومیکانیزمونه هم رامنځته شوي دي.

په نړۍ کې کوچیان دمیشتو ولسونو سره له مذهبي، ژبني، توکمي هویت، ټولنیز اورګانیزبشن ، ټولنیزه چاپیریال ،اقتصادي، حقوقي، د ارزښتونونړۍ، دودنو، کولتوري او ځایي سیمه ییزه پلوه توپیر لري، دساري په ډول اروپا کې روما، سنتي، سیګان یا جټان .

د افغان کوچیان توپیر دنړۍ له ډیروکوچیانو سره په همدې کې هم دی، دافغان کوچیانو مذهب، ژبه، توکمي هویت، ټولنیز اورګانیزیشن، د حقوقي ارزښتونو نړۍ، کولتوري توکي، دودیزه او فزیکي جوړښت د افغان ولس د ډیرکي ستر ولس پښتنو سره هیڅ توپیر نه لري. کوچیان د افغان ستر ولس له پامه نه غورځیدونکي ستره برخه ده. پښتانه کوچیان د لرغوني افغانستان تر ټولولومړني دودیزه ګرځنده کوچي اوسیدونکي دي.

افغانستان کې کوچیاني ژوند له ځای میشت افغان ولس سره له لرغونو زمانو څخه د څوارخونو له لارې له یوبل سره ګندلي شوي دی. کوچیان له میشت ولس او میشت ولس له کوچیانو سره د مختلفو لارو له یو بل سره نږدې اود پیژندګلوي اړیکې درلودلي دي.

په ډیر خواشینی سره باید وویل شي، چې افغانستان کې دیو شمیر پیژندل شویو له نفرته ډکو کړیو له خوا دکوچیانو بدنا مول، اجباري کډولول او دلمنځ وړلوسیاسي دسیسي او له شرمه ډک ګوابښمن پلانونه په کار اچول شوي دي.

افغان کوچیان د نسلونو نسلونو او سلګونو، زرګونو کلونو څخه خپلو څارویته دزرغونوځرځای مندلو لپاره د څرمني او د ژمني په موسوم کې د امو او اټک سیندونو په شاخواه کې تګ، راتګ کړي اوکوي.

کوچیانو د نامالومي مودي لپاره نه کډوال او نه بي ځایه کیږي. کوچیان هرکال په ټاکل شوي موسوم کې ځي او راځي. دوی د خپلولرغونو تلو راتلو لار و په سر کې هرکال د کلیو او باندو له میشت خلکو سره په کرنه او لو ونو کې مرسته هم کوي . کوچیان له میشتو خلکو سره دخپلو څارویولپاره د څرځایونو د لاسته راوړلو په بدل کې مرسته هم کوي. دوی له میشت اوسیدونکوسره د ډول ډول توکي ادلون بدلون ترسره کوي او ځینې نور ي چارې راکړه ورکړه هم تر سره کوي.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په څیر و لولـئ

## ۱. د افغان کوچیانو لرغونې تاریخ

د نړۍ او افغانستان په تاریخ کې کوچپانو خورا مهم رول لوبولي دی. د بشر د کولتور ي ودې تاریخ ته که کتل شي، کوچیتوب هیڅکله ابتدایي ژوند او منځني طبقه نه وه، بلکې دوی د ژوند او اقتصاد یوه ځانګړي بڼه رامنځته کړي ده. کوچیتوب یوګرځنده اقتصاد دی، د کوچیانو کولتور ي ارزښتونه ډیر لرغوني او بډایه اړخونه لري.

کوچي یوترکي توري دی، پښتو ژبې او پارسي ژبې له ترکي ژبې څخه د کوچي (کوچیدل ) توري اخیستي. کوچي توري په ترکي ژبه کې درې ډوله استعمال شوي . لومړی، د یو قوماندان تر ولکې لاندې نیوول شوي ښارکې، د ده تګ د ښار له یوې دروازې څخه بلې ته یا ځای بدلولو ته کوچي ویل شوي. دوهم، دورځني واټن یا مزلوهل چې وګنل شي کوچې ویل کیږي. دریم،په ترکي ژبه کې دیو ښار څخه بل ته کډه کولوته هم کوچي وایي.

په لنډه توګه کوچیتوب اصلاً، له یوځړځای څخه بل ته خوځیدل او کوچیدلو ته ویل کیږي. نړۍ کې دوه ډوله کو چیان یعني، ګرځنده کوچیان او نیمه کوچیان پیژندل شوي دي. لومړۍ ډله یواځې او یواځې د څارویو په پالنه او ساتنه کې بوخت دي او په یوه سیمه کې استوګن نه دي. دوهمه ډله نیمه کوچیان دي، دوی مېشت اوسیدونکې او د څارویو سربیره په نورو چارو لکه کرهنه ،سوداګري اوترانسپورټ په برخه کې هم بوخت دي. د پخواني زړه نړۍ په وچ کمربند کې کوچیانو هم ډول ډول کولتور ي ژوند درلوده. د کوچیانو ډلې د څارویو په ساتنه او پالنه کې هم له یو بل سره توپیرکیداي شي، لکه دمنګولیا اس پالونکې کوچیان، د تبت په جګو ځمکوکې مښوو روزونکې کوچیان، د مرکزي اسیا اوښ ساتوونکې کوچیان، د راجستان او موریتانیا په منځ کې کوچیان د دووکوپولرونکې اوښانو په پالنه کې بوخت دي او په ختیځ افریقاکې غوا لرونکې کوچیان یاده ولي شو.

نړۍ کې په لومړۍ ځل د کوچیانو ژوند هغه مهال سخت زیانمن شو، کله چې اروپایي کولونیالیستانو په افریقا ،اسیا او عربي نړۍ کې پوځې یرغلګرو بریدونوپیل کړو . دپخواني شوروي اتحاد او د چین امپریالستي،کمونیستي اقتصادي ،سیاسي ښارجوړولو پلانونو ودې په لړ کې کوچیان هم له سترو ګواښونو سره مخامخ کړل . د کوچیانو د استوګنځې په سیموکې پوځې مانورنو ترسره کول او دغو سیمو ته د کوچیانو ورتګ منع کول، د دوی د تګ ،راتګ په لاره کې ملي پارکونه ،د نویو لویو لاروا و مډرن ترانسپورټي وسایلو ته تمځایونو جوړولوسره دکوچیانو ژوند په بنسټیزه توګه تنګ او په ورانوپیل وکړو. عربي هیوادو کې هم دعربي کوچیانو یا بدوینو دودیزه ژوند بڼه د تیلوزیرمتونورا ایستلوتخنیک اوپرمختګ سره په لمنځه تللو شو. عرب اوس خپلو څارویو ته اوبه ،واښه په موټرو کې راوړي اوخپل څاروي په بهرني کارګرانو باندې ساتي. عربو ته اوس د څارویو ساتل یو ه شوقي چار ګرځیدلي ده.

کوچیاني ژوند په افغانستان، هندوستان، چین او ایران کې له کړکیچن اقتصادي، سیاسي او جګړیزو حالاتو سره لا تر ننه شتون لري. دنړۍ په کوچیانوکې دافغان کوچیانو ژوند ددیرش کلن جګړیزه نورین، وچکالیو، ناوړه اقتصادي، روغتیایي حالاتواو د دولتونو دنه پاملرني له امله د مرګوني ګواښونو سره مخامخ دی.

افغان کوچیان د پیړیو پیړیو څخه د خپلو اوښانو میږو او وزو سره د افغانستان له یوې سیمې څخه بلې سیمې ته کډه کیږي. دوی هر کال د ژمي رارسیدو سره سم د هندوکوښ له غرونو او مرکزي افغانستان څخه پرخپلو او ښانو باندې خپلي کیږدې، لرګي، پخلنځې له نورو اړینو توکو سره دافغانستان او پښتونخوا ګرموسیمو او خپلو مینو ته ځي. دوی په دوبي کې بیا بیرته د اسیا زړه د افغانستان مرکزي سیمو او خپلو مینو ته راګرځي.

دافغانستان دغرونو لمنې، ډاګونه، درې، دښتې د کوچیانو په رمو او خیمو بې کچه ښایسته ښکاري. ملي او نړیوالو انځورګرانو اوسیلانیانو له کوچیانو څخه ډیر ښایسته په نړیواله کچه په زړه پوري انځورنونه اخیستلي او ایستلي دي. افغانستان پرته له افغان کوچیانو څخه اصلاً فکر کیداي نشي. کوچیان د افغان ستر ولس منځ زړې جوړوي. افغان کوچیان دپښتنو دلرغوني تاریخ د سر جګه شمله ګڼل کیږي.

د لوی افغانستان د پښتنو ډیرې قبیلې کوچیاني ژوند درلو،دوی ورو ور و د وخت په تیریدو سره په خپل پلارني ټاټوبي کې د نورو افغانانو سره په کلیو، بانډواو ښارونو کې مېشت شول .

په افغانستان کې احمدزي، غلجي، خروټي، تره کي، اندړ، سدوزي، او دوراني پښتنانه کوچیان د پښتنو دقبیلو د لرغوني پنځ زره کلن تاریخي شتون ژوندي بیلګې دي. دیاد شویوقبیلوځیني وګړي میشت اوځیني تر اوسه خپلواک ډله ډله کوچیاني ژوند غوره کړي دی.

افغانستان کې د پښتونوکوچیانو سربیره نور بیلا بیل کوچې توکمونه شته. د افغانستان په ختیز کې د افغان پامیر او واخان په سیمه کې افغان قرغزي کوچیان، په لویدیځ کې افغان بلوڅ کوچیان او په شمال کې افغان ترکمن کوچیان شتون لري.

په ۱۲۹۰ کال کله چې د بشریت ستر دښمن اوپه وینولړلې ظالم چنګیز دافغانستان پر مرکزي سیمو وحشي یرغل وکړ. د بامیانولرغوني ښار یې په اور کې وسوځوه. کوچیانو د ده دیرغل څخه مخکې په همدغه سیمه کې خپلي خیمې درولي وی او د کوچیانو څارویو او رمو له دسیمې له څړځایونوڅخه استفاده کوله.

افغان کوچیانو دلرعوني اریانا په درسته ستره خاوره کې خپل کوچیاني ژوند، تګ راتګ کړي دی. په افغانستان کې ډیره موده مخکې له دې چې د افغانانو ملي دولتونه او امپراتورۍ رامنځته شي، په سیمه کې کوچیاني ژوندشتون لرلو. کوچیانو د خپل کوچې ژوند بڼي له امله د هر انسان میلمه پالنه کړي ده او دپښتونولي میلمه پالنې کولتور له همدې مهاله


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د پښتنو په وینه کې رنګ اخیستي دی. د افغانستان ستر شتمن تاریخ، د طبیعت بیساري ښکلا، د هنر او دودونوستر زیرمتون، هره دره اوهره سیمه یې ځانته خپل کولتوري هویت لري. د افغان کوچیانو ځو زره کلن دودونه، کولتور او ژوند بڼه دافغانستان په ځو زره کلن زوړ تاریخ کې هیڅ کوم بدلون ونه موندلو.
افغان پادچایانو د کوچیانو عادتونه او دژوند بڼه تر هغه مهاله خپله کړي وه، کله چې انګریزي ښکیلاکګرو د افغانستان ګاوند هندوستان ته راغلل. افغان پادچایانو دکوچیان په ځیر په دوو پلازمینو کې اوسېدل، د دوبي په میاشتو کې لومړنۍ پلازمېنه کابل او د ژمي په میاشتو کې دوهمه پلازمینه پیښور وو.

۲ . د کوچیانو د بشري حقوقو وضیعت او ژوند بڼې ته ګواښونه

د افغانستان د اساسي قانون په څوارلسمه ماده کې داسې راغلي دي، دولت د کرنې او مالدارۍ د پراختیا، دبزګرانو او مالدارانو د اقتصادي، ټولنیزو او د ژوند د شرایطو د ښه کولو او د کوچیانو د میشتولو او د دوی د ژوند دسمون لپاره د دولت د مالي توان په حدودوکې اغیزمن پروګرامونه وضع او تطبیقوي. دولت مستحقو اتباعو ته د استوګنځای د برابرولو په منظور او دعامه ملکیتونو د وېش لپاره د قانون له حکمونو سره سم او د مالی امکاناتو په حدودو کې لازم تدبیرونه نیسي.
د اساسي قانون په نهه ډیرشمه ماده کې راغلي، هرافغان حق لري د هیواد هرګوټ ته سفر وکړي او استوګن شي خوله هغو سیمو پرته چې قانون منع کړي وي. ملګرو ملتو په افغانستان کې کوچیان ترټلو وګړو کړیدلي ځوریدلي له هر ډول حقوقو څخه محرومه ،یوه ستره له ګواښونو سره مخامخ توکمي ډله بللې ده. په افغانستان کې هیڅ څوک کوچیانو ته پام نه کوي. افغان کوچیان ځان له ټولې نړۍ څخه ویر شوي، بیل شوي او په انزوا کې احساسوي. په افغانستان کې اوس دافغانانو ژوند په منځي توګه لږ څه لوړ شوي، خولا هم کوچیان د نړیوالې ټولنې له مرستو څخه په هغه ډول برخمن نه دي لکه نور افغانان چې برخمن شوي دي.
کوچیان د افغانستان دنور وګړي په څیر خپل ټول حقوقي مدني بنسټیز حقوق لري اودافغانستان نورمال عام ګرځنده اوسېدنکي دي. کوچیان یوه ځانګړي ځانګړتیا لري ،د دوی ژوند بڼه دنورو افغانانو څخه توپیر لري. کوچیان په خپل لرغوني پلارني هیواد کې خپل ځان ته ګرځنده ژوند غوره کړي دي. دا د دوی حق دی نه ګناه . کوچیان له هغه مهاله چې د بشریت تاریخ لیکل شوي خپلواک ژوند غوره کړي دی. دوی د خپل هیواد په ښکلو غرونو، درو، د ښتو او خپل افغاني زرغون چاپیریال کې ګرځي را ګرځي. دا دکوچیانو حق دی، چې د هیواد په هرګوټ کې چې دوی وغواړي او د دوی د ژوند بڼې سره مناسبه سیمه وي ژوند وکړي، هیڅ څوک دوی له دغه ژوند بڼې له حقوقوڅخه راګرځولې نشي مګر یواځې الله (ج). د کوچیانو بې نامه ،بې نشانه له نفرته ډک مخالفین باید په دې پوه شي، څنګه چې افغان هزاره ګان، افغان ترکمننان، افغان هندوان، افغان سیګان او د افغانستان نوروګړي په ټول افغانستان کې داوسیدو حق لري، کوچیان هم داسې حق لري. څنګه چې کابل ښارته د کسب، کار اومذدوري لپاره لس ګونه زره نوي راګده شوي هزاره هیوادوال هېڅ څوک منع کولې نشي او همداسې هیڅ څوک کوچیان په ټول افغانستان له خپلو لرغونو څرځایونو څخه منع کولې نشي. کوچیان قانوناً د خپل د ژوند له ځانګړي ګرځنده ډول سره په ټول افغانستان کې د ژوند اواستوګنې حق لري. افغانستان نه یواځې دافغانانو ګډ کور دی، بلکې ددوی اقتصادي ګټې او برخلیک هم له یو بل سره تړلي دی. افغانان په خپل منځ کې دومره توپیرنه نه لري، څنګه چې دوی په خپلو منځو کې ګډارزښتونه او ګډ دودنه لري.
کوچیانو لکه د نړۍ نور انسانان خپل ټاکل شوي بنسټیز حقوق لري. کوچیان په افغانستان کې داساسي قانون پربنسټ لکه نور افغانان د درملنې، ښووني روزنې او د نن ورځ د هوسا ژوند اسانتیاوي ربنته یا حق لري.
نن ځیني کوچیان د هیواد دپه لرو او پرتو سیموکې ځوریدلي، کړیدلي، شکیدلي، لوږې اوتندې په سر اخیستي دي، نن کوچیانود کابل ښار په سړکونو لارو کو څو کې بې حقوقه، محرومه، مصیبت ځپلي، شکاشت، در په دره، ویر شوي ،په ویرلړلي، له پامه غورځول شوي وګړو په څیر ور ته کتل کیږي. دهیواد په نورو سیموکې د زورواکانو، ټوپکمار او په جنګي جرایمو متهم اشخاصو له خوا د کوچیانو خیموته د شپې له خوا په خوب کې اورونه اچول شوي دي. نن کوچیان د افغانستان له شمال څخه دوسله والو جنایتکارو ټوپکمارو ډلو له لاسه په زور او اجبر را ګډه کړل شوي دي.
هیڅ څوک نه پوهیږي، چې په دې دیرش کلن جګړیزه ناورین کې څومره کوچیان وژل شوي دي. هیچ څوک نه پوهیږي، چې ترننه څومره کوچیان په ماینونو کې وژل شوي دي. هیچ ځوک نه پوهیږي، چې څومره کوچیان دروسي او امریکایي ښکیلاکګرو په هیوایي بمباریو کې وژل شوي دي، هیچ څوک نه پوهیږي، چې څومره کوچیان دجګړو په ډګرونو کې را ګیر او بې ګنا وژل شوي دي. هېچ څوک نه پوهیږي، چې څومره کوچیان د اوږدو وچکالیو، ساري نارغیو او دناپاکو څښاک اوبو دښتون له امله مړه شوي دی. هیچ څوک نه پوهیږي، چې څومره د کوچیانو میندې او نویو زیږیدلو ل شوي ماشومان د روغتیایي اسانتیاو ود کمښت له امله مړه شوي دي. نن په افغانستان کې تر ټولو افغانانو لومړۍ کوچیان د ژوند له سختو شرایطو، له ځښتو ډیرو ګواښونو سره مل او مخامخ دي.

---


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

نن په افغانستان کې کو چیان پرته له ګړد او خاوري څخه په خپل ځان کې بل څه نه لري. نن کوچیانو په کابل او د هیواد په نورو سیمو کې شپې او ورځې د ژمي بې کچه سړه هوا او دځړمیني په بې کچه توده هوا کې تیروي. کوچیان په ډیرو نورو مواردو کې له خپلو څارویو سره یو ځای شپه په کیږدۍ کې تیره کړي.

نن کوچیان په پلازمینه کابل کې دخوراک، څښاک اوبه، دکورني ژوند لومړنیو اسانتیاووي هیڅ څه نه لري.

نن په افغانستان کې دناروغه کوچې درملنه په دولتي روغتونو کې نه کیږي، نن د کوچیانو مړي په عامو مړستونو کې خاور ي سپارلو ته نه پریښودل کیږي. دکوچیانو پرمخ دافغانستان دمحاکمو دروازې تړلي دي.

د کوچې ماشومانو پوستکې لمر سوځولي، د ژمي ساړه هوایي د دوی پوستکې ویني کړي، کالي شکیدلي، دوی ډاکټر او ښونځې نه پیژني، د کوچې ماشوم په زیږنتون کې نه زیږیږي، کوچیان د خپلو بنسټیزو حقوقو څخه خبر نه دي، دوی په زړو توري کیږدېو کې بیوزله، محکوم او محروم ژوند ته مجبوره کړي شوي دي. دډیرش کلنې جګړو ناوزین د کوچیانو دودیزه ژوند بڼه لمنځه وړي ده. پرکوچیانو ټولې لارې تړلې شوي دي، کوچیان مجبوره کړل شوي دي، چې په یوه سیمه کې مېشت شي. دکوچیانو ژوند له جدي مرګوني ګواښونو سره مخامخ دی. دکوچیانو په ژوند بڼه کې ګواښمن ژور بدلونونه راڅرګند شوي دي.

هیڅ چا د کوچیانو سره د دوی د څارویو د ناروغیو دمخنیوي، اسانتیاوي اوڅارویو لپاره د روغتیا وترنرئ پروژه ونه لیدل،د هیڅ چا له خوا کوچیانوته د حیواني ناروغیو د درملني په اړه طبي پوهاوي ورنه کړل شو.

کوچیانو ته د افغانستان د بیارغوني په بهیر کې نورو افغانانو ته په کتو سره هیڅ پام ندې شوي. کوچیان تل زموږ په ټولنه کې له هر ډول تولنیزه، اقتصادي، روغتیایي او ښونیزه پرمختیاوو څخه قصداً بې برخې پاتې کړل شوې دي.

نن په افغانستان کې ډیرو زورواکانو، جنګسا رانو او جنګي جنایتکارانو بې کچه دولتي ځمکې غصب کړي دي. د دوی په وړاندې هیڅ کوم قوم خپل غبرګون و نه ښود.

د اریانا افغانستان په تاریخ کې کوچیانو له کلونوکلونو څخه تل دهیواد له ټولو ملي څړځایونو څخه ګټه اخیستلې ده. د نړیوالو قوانینو او حقوقو پر بنسټ کله چې کوچیانو د زرګونو کلونوڅخه له دولتي عامه څړځایونو استفاده کړي وي، د دوی ملکیت د عادتي حق پر بنسټ پرته له حقوقي اسنادوڅخه پر دغه څړځایونو باندې ثابت کیږي.

کوچیانو ډیر څړځایونه او ورشوګاني په بیه اخیستی او یا هم د پخوانیو دولتونو لخوا دوی ته د استفاده لپاره وکړل شوي دي، کوچیان له سلګونو کالونو څخه موثق اسناد یا لاسوندونه له ځانه سره لري. ددوی د لاسوندنو څخه دا ثبتیږي، چې د افغان پادچایانو لخوا دوی ته په اتلسمه او نوولسمه پیړۍ کې دغه سیمي او څړځایونه د استفادي لپاره ورکړل شوي دي، دوی سره اوس دخپلو څړځایونو د مالکیت لاسوندونه شته دي.

پوښتنه دا ده ، چې څنګه ځیني هزاره ګان هغه کوچیان تورنوي ،چې دوی د پیړیو پیړیو څخه د افغانستان د مرکزي سیمو له عامو څړځایونو څخه استفاده کړي . کوچیان هر کال بیر ته خپلو ګرمو سیمو او مینو ګرځي ، چې ګواکې کوچیان د دوی پر سیمو تیرې کړي . د همدې پلمې لاندې کوچیانو ته سخت مالي او ځاني زیانونه ور اړول شوي او کیږي اوځیني خلک کوچیان خپلو سیمو او مینوته نه پریږدي.

اوس د ا پیښې کابل ښار ته را ورسیدې، د بیلګې په ډول کوچیان د څولسیزو څخه را په دې خوا په کابل کې د کوروغ د غره په لمنو کې په سولیز ډول په خپله مینه کې اړولي. هلته پر کوچیانو ډلیز وسله وال بریدونه کیږي، دوی وژل او سخت ژوبل کیږي او خیمو ته یې اورونه اچول کیږي. نړیوال ټولنه، افغان حکومت ، دبشري حقوقو فعالین، مدني ټولنې او نور افغانان ګوري چې څنګه ځیني ایراني روزل شوي مذدور کسان په ډیرسپین سترګتوب سره پر افغان مظلوموکوچیانو باندې تیرې او ظلم کوي.

نن د پروان والي په ډیر سپین سترګتوب او نا پوهي سره د دوو الماني سیلانیانو د تریټم کیدو او وژل کیدلو په تور کوچیان تورنوي اود سیمه ییزه کوچیانو دنیول کیدولوامر ورکوي.

د افغانستان ستر باعزته ولس دکوچیانو نوم نړیوالوته په دغه جرم باندې اخلي او دشریفو بې ګناه کوچیانو نوم په دغه جرم کې بدوي. کوچیان د افغانستان په تاریخ کې د وریښمینو او لویو لارو ګرځنده ساتندویان وو او دي. کوچیانوته تل هر بهرني اوهر کورني مسافر په لارو کې د غلو له ویرې پناه وروړي ده. کوچیانو نه یواځې د ژغورلومرسته کړي، بلکې د خوراک او څښاک مرسته یې هم ورسره کړي ده .تاریخ د اثابته کړي، چې کوچیان دافغان ولس خداي خدمتګاران دي.

نن که پر کوچیانو وسله وال تیرې کیږي، نو پر درست افغان ولس تیرې کیږي، که نن کوچیان دخپلو بشرې حقوقو څخه محرومه دي، نو زه اوته دخپلو بشري بنسټیزو حقوقو څخه محرومه یو. نن کوچیان نه یواځې خپل بنسټیز حقوق نه لري، بلکې د کوچیان ژوندپه بنسټیزه توګه له سترو حیرانوونکې ګواښونو سره مخامخ دی.

به له شکه په کوچې قبیلوکې د حجري، جومات، پوهنتون او سیاست ستر سړیتوبونه شته دي، برسیره پردې ځیني پوه افغانان په دې اند دي، چې دغه کړکیچ باید په ولسي جرګه کې د ۲۴۹ غړو څخه د کوچیانو دلسو غړیو له لاري دې هوار شي. دغه بي مسوولیتي ده او د کوچیانو مظلوم، محروم ولس سره ستره جفا ده. ځکه زموږ په کور افغانستان کې د یوي ستر ي ټولنې، پرګنې یا ډلې حقوق تر پښو لاندې کیږي، نو د ټولو با عزته افغانانو ایماني، وجداني دنده ده، چې د دوی له روا حقوقو څخه دفاع وکړي.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په ځوريدلې، کړيدلي بې حقوقه او معصومه کوچيانو بريدونه، دوی ته ځاني او ملي زيانونه اړول او له پيړيو پيړيو څخه دوی خپل ازاد ژوند او چاپيريال ته نه پريښودل دا يو ستر بشري نه بښوونکې ناورين او جنايت دی، چې هيڅ څوک پرې سترګې پټولي نه شي. تر ټولو لومړۍ دغه ملي شرم هغو کسانو ته متوجی دی، چې د کوچيانو پروړاندې ددغې جنايت حمايت کوي او په دولتي چوکيو کې چوپه خوله ناست دي.

هيڅ څوک له يوځايې څخه بل ځای ته په خوښه نه کډوال کيږي او نه ځې چې هلته ارزانه ټوکې راونيسي او يا دخپلو څاريو تولېدات هلته وپلوري، چيرته چې ورته ډيره اړتيا شته.
په ښه وختونو کې هره کوچې کورنۍ له سلو څخه ډير پسونه او وزې درلودي. دجګړو او وچکاليو په بهير کې کوچيان خپلې رمې او د ژوند بنسټيزه توکې له لاسه ورکړي.
نن ځيني کوچيان پرته له يوې خيمې، يو څواوښانو، ميږو او اوزو څخه نور څه نه لري. د کوچيانو ژوند نه يواځې د جګړه مارو ډلو بلکې ماينونو هم له ګواښ سره مخامخ کړي دی. د کوچيانو په دوديزو لارو کې ماينونه اښودل شوي دي.
افغان دولت په مرکزي افغانستان کې د کوچيانو د څړځايونو دحقوقو په اړه د کړکيچ د حلولو په اړه پاتي راغلي دی.
د حکومت له خوا د کوچيانو سره هيڅ ډول مرسته نشته. زموږ په افغاني جګړه ځپلي او دليک لوست په ټيټه کچه ټولنه کې بايد دکوچيانو دلرغوني کوچي ژوندښي حقوق نوي تعريف اوو پيژندل شي.
کوچيان په دې نوی افغانستان کې لکه نور افغانان خپل سياسي حقوقي بنسټيز حق غواړي.

د لومړۍ برخې پای


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ